له مثبت پیغام سره ادبیات ۵
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړې کیسې
ACKU




# د ځلا خوبونه

هیله هدايي

ACKU

د ځلا خوبونه

هیله هدايي

پرله‌پسې شمېره: ۴۰۹




# Zalla's Dreams

Hella Hidai

له بده مرغه ځلا بې له
دې چې له مخکې کوم تیاری ولري د
کانکور چمتووالي په صنف کې کېناسته.
ډېری وخت به يې د سوالونو ځوابولو پر وخت
سترګې له اوښکو ډکې وې، خو له دې ټولو سره سره
ځلا له خپلو هڅو لاس وانه‌خست او مخ پر
وړاندې روانه وه. هغې له ځانه سره ژمنه کړې
وه چې زيار به وباسي او خپلو اهدافو ته به
ځان رسوي.

توانا
برنامه‌ای برای نشرکتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension
Est. 1996
ISBN 978-9936-646-27-8




## ده کتاب برگزیده‌ی دومین جشنواره‌ی ادبی «توانا»

## د ادبي سیالی د دویم پړاو لس غوره شوي داستانونه



د لوی او بښونکي خدای په نامه

۵

**له مثبت پیغام سره ادبیات**

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لهپاره ځانګړې کیسې




# د ځلا خوبونه

هیله هدایي


◆ **سموونکی (ایډیټر):** لعل اقا شیرین

◆ **انځورګر او د پښتې طرحه:** سهیلا بختیاري

◆ **د پاڼو جوړونه:** پارسا

◆ **د مخونو شمېر:** ۶۰

◆ **پرلهپسې شمېره:** ۴۰۹

◆ **کچه:** ۱۳.۵ × ۲۱ سانتي متره

◆ **چاپشمېر:** ۴۰۰۰ ټوکه

◆ **خپروونکی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

◆ **لومړی چاپ:** ۱۳۹۸ل. (۲۰۲۰م) کابل – افغانستان

◆ **برېښنالیک(ایمیل):** publication@acku.edu.af

◆ **ویب پاڼه:** www.acku.edu.af

◆ **شابک:** ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۶-۲۷-۸


**د پښتو ژبې ارزوونکي: محمد انور وفا سمندر، صدیق‌الله بدر او ارش ننګیال.**

- تر نظر: د کاظم حمیدي رسا
- اجرایي شورا: عبدالوحید وفا، رشمي دانګل، فیض محمد نایاب-عطایي، بهار احمدي، عبدالستار اعظمي او محمد حامد نیازی.
- وېش: زینت‌الله قانت


- د چاپ حق خپروونکي لهپاره خوندي دی.
- د کتاب له مطالبو څخه ګټه اخستل یوازې د ماخذ په یادولو سره مجاز دي.
- لیکوال د کتاب منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظریاتو څرګندویي نه کوي.

## یادونه:

د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري روزنې او ماشوم ادبیاتو د پیاوړتیا په هدف، د داستان لیکلو دویمه ادبي سیالي ترسره کړه.
د ادبي جشنوارې ادارې، په دري او پښتو ژبو داستاني اثار ترلاسه کړل. ورپسې ترلاسه شوي اثار تر ارزونې او څېړلو وروسته د ارزوونکې کمېټې له لوري غوره شول.
د اثارو په ارزونه او غوره کولو کې، د ارزوونکو دوو خپلواکو کمېټو په دوو پړاوونو کې، داستاني اثار وارزول. ټاکل شویو ادبي معیارونو ته په پام ، هر داستاني اثر ته امتیازونه ورکړل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د لا ډېر رڼښت او شفافیت په پار، فقط د دغې ادبي سیالۍ ترسره کېدو ته زمینه برابره کړې او د داستاني اثارو په ټاکلو کې یې کوم نقش نه‌درلود.

لس داستاني اثار(پنځه په پښتو ژبه او پنځه په دري ژبه) چې  د «توانا» تنکي زلمي او ماشوم داستان ادبي جشنوارې په دويم دور کې غوره شول، د ادب برخې ايډيټرانو له لوري تر ادبي سمونو، رسامۍ، او پاڼه جوړولو وروسته، خپاره شوي دي.
په ټوله کې، د ادبي جشنوارې د دويم دور لهپاره ټول غوره شوي کتابونه ۴۰ زره ټوکه چاپ او د هېواد په گوټ گوټ کې وېشل کېږي.

**د ادبي جشنوارې اداره**

**د توانا پروگرام ACKU**

# د ځلا خوبونه

هيله هدايي





# د ځلا خوبونه

په یوه کلیواله کورنۍ کې یوه نجلۍ وزېږېده. داسې کورنۍ کې چې د هلک او نجلۍ تر منځ توپیر کول ورته یوه عادي خبره ښکارېده. کله چې نجلۍ سترګې پرانستې؛ نو د خپلې کورنۍ لهپاره بدمرغه وګڼل شوه او له پیدایښت سره سم یې عمهګانو په ژړا بنا وکړه او د څلورمې نجلۍ پیدا کېدل یې د کورنۍ لهپاره د شرم لوښی وباله.

یوې عمه یې په ژړا ژړا کې داسې وویل:

زما کمبخته وروره، څلورمه لور دې هم پیدا شوه، ته څومره بدنصیبه یې !

زیږېدلې ماشومه ډېره ښایسته وه؛ غټې غټې خرمایي سترګې یې وې، تور وېښته او لوړه پزه یې لرله او پلار یې ځلا ونوموله.

له خاپوړو تر پل اخستو او بیا د ښو او بدو ترمنځ د توپیر کولو عمر ته تر رسېدو پورې یې فقط د کورنۍ له لوري غیرعادلانه او توپیري چلند کوت. همېشه په دې نوم رټل کېده چې نجلۍ ده، کورنۍ به ورته هېڅ پاملرنه نهکوله او تل به ورته ویل کېدل چې نجونې خو د



بـل کـور وي؛ نـو پلارګنـۍ ولـې ځانونـه پـرې هسـې خـوار کـړي.

کلونــه کلونــه تېــر شــول، ځــلا دیارلــس کلنــه شــوه، او هغــه عمــر تــه ورسېده چـې د خلکـو پـه ښـو او بـدو پوهېـده. ځـلا ځلـور وروڼـه او درې خوېنـدې درلـودې او دا پـه کـې تـر ټولـو کـشرۍ وه. کـشري ماشـومان معمــولاً نــازولي وي، خــو د ځــلا نازولتــوب درک نه‌لګېــده.

ځـلا د سر پــه ســترګو لیــدل چــې د دې، خوینــدو او وروڼــو ترمنــځ یــې زیـات توپیـر کېـږي او وروڼـه وربانـدې غـوره ګڼـل کېـږي، دې ټکـي ډېـره ځورولـه او همـدا ځورېدنـه سـبب شـوه چـې د ځـان او خوینـدو پـه اړه نـوی فکـر وکـړي. دې سـوچونو یـې لاره او موخـه یـو څـه روښـانه کـړه، هغـې غوښــتل چــې د زده‌کــړو پــه ګاڼــه ځــان ســینګار کــړي او پــه دې توګــه خپلـه برتـري ټولـو تـه ثابتـه کانـدي.

ځــلا بــه ډېــری وخــت لــه داســې کړنــو او چــارو سره مــخ کېــده چــې پــه هېڅوجـه بـه ورتـه د زغملـو وړ نـه وې، خـو بیـا بـه هـم چـوپ پاتـې کېـده او د اوښـکو پـه تویولـو بـه یـې خپـل دردونـه تسـکینول.

پـه همدغسـې شرایطـو کـې ځـلا د ژونـد خپلـه تـر ټولـو لویـه هسـتي او تکیـه‌ګاه لـه لاسـه ورکـړه او پـلار یـې ومـړ. هغـه څـوک چـې تـل بـه د ځـلا ترڅنـګ ولاړ و او سـتایله بـه یـې او ملاتـړ بـه یـې ځنـې کاوه. ځـلا بـه د پـلار پـه لیـدو ټـول غمونـه هېـرول، او د پـلار پـه یـوې مسـکا بـه ورتـه نـړۍ ښـکلې ښـکارېده، خـو اوس یـې داسـې یـوه لویـه هسـتي لـه لاسـه ورکـړې وه او پـه تـش میـدان پاتـې وه.

وروڼـه د پـلار تـر مړینـې وروسـته د دې پرځـای چـې د خوینـدو لاسـنیوی وکـړي، نـورې یـې هـم پـر ځمکـه وغورځولـې.

پلار او مور يې که څه هم د اولادونو ترمنځ توپير کاوه، خو لوڼې به يې څه ناڅه د ورونو له تېري او زورزياتي څخه ژغورلې. اوس يې پلار په مرګ بېل شوی و او مور يې د ناروغۍ په بستر پرته وه.

له کوچنيوالي زامنو ته زياته توجه او پر لوڼو د هغوی غوره ګڼل، بالاخره د دې لامل شوي وو چې ورونه ځانونو ته دا حق ورکړي چې خويندو ته سپکې سپورې ووايي او ويې رټي.

يوه ورځ ځلا کوټه جارو کوله چې ورور يې ورته د بوټانو د برس کولو وويل. د کوټې جارو خلاصه شوه، خو د بوټانو برس کول له ځلا هېر شول او په خپل لوست بوخته شوه.

ورور يې تر لږ ځنډ وروسته راغی او داسې يې ترې وپوښتل:

ځلا چېرته ورکه يې، زما بوټان دې برس کړل او که نه؟

ځلا په وېره وېره ورته وويل:

وبښه وروره، هېر مې شول!

ورور يې بې له ځنډه وربانډې راباندې کړل، له وېښتانو يې راښکله او بوټانو ته يې کېنوله او بوټان يې پرې برس کړل.

ځلا دغې پېښې ډېره خوابدې او ناهيلې کړه، کره ورځ او ټوله شپه يې په ژړا تېره کړه، خو له خولې يې بيا هم سوڼ ونه‌ايست. شپه سبا شوه او سهار وختي همدا چې د کور کارونه يې خلاص کړل بيا د ښوونځي پر لور رهي شوه.

ځلا به ښوونځي ته په ډېره مينه روانه وه، ښوونځی يوازنی ځای و چې ځلا ته به په کې ارزښت ورکول کېده. ځلا ډېره خوش‌اخلاقه او د ښوونځي پر اصولو خبره نجلۍ وه او ټولو ښوونکو ته به يې ډېر



درنـاوی کاوه. همـدې ښـو خواصـو ځـلا د ښـوونځي غـوره زده‌کوونکـې گرځولـې وه.

ځـلا پـه ښـوونځي کـې د وریښـمینې پـه نـوم یـوه نـږدې ملگـرې او همصنفـۍ درلـوده او دواړو بـه ډېـری وخـت لـه یـوه او بـل سره د زړه حالونـه شریکـول. کلـه بـه چـې ځـلا ورتـه خپلـې دردوونکـې کیسـې کولـې، نـو وریښـمینې بـه ورتـه رنـې رنـې اوښـکې تویولـې.

پـه بلـه ورځ چـې وریښـمینې د ځـلا لـه درد او سـوزه ډکې کیسـې واورېدې؛ نـو پـه ډېـره غوسـه او قهـر راپورتـه شـوه او ورتـه یـې وویل:

ځلا، لږ را په خود شه، ستا خپگان ستا له خپله لاسه دی!

ځلا: ځنگه؟

وریښـمینه: تـه ولـې د خپلـو ورونـو پـر وړانـدې عکس‌العمـل نه‌ښـیې، ولـې ورتـه چـوپ ناسـته یـې، تـر هغـه چـې لـه خپلـه حقـه دفـاع ونه‌کـړې، همداسـې بـه مظلومـه وې او همداسـې بـه بـې دریغـه ظلمونـه دربانـدې کېـږي.

ځـلا : وریښـمینې دا تـه څـه وایـې، ایـا زمـا لـه حالـه نـه یـې خـبره، لـه یوې خـوا مـې پـلار پـه حـق رسـېدلی او لـه بلـې خـوا مـې مـور پـه کـټ کـې ناروغـه پرتـه ده، خوینـدې هـم ورونـه وظیفـې تـه نه‌پرېـږدي او همدغـو ورونـو تـه محتاجـه یـو چـې خرچـه مـو وکـړي. دا لا څـه کـوې چـې ټولنـه هـم نجونـې ملامتـوي، زه دغسـې یـوه وضعیـت کې چـې نـه مـې درسـونه پـای تـه رسـېدلي او نـه د خرچـې گټلـو یـم، څـه کـولای شـم.

وریښـمینه: خـدای دې زمـوږ د ټولنـې دا نـاوړه دودونـه چـې د برابـرۍ

اصل تـه یـې زیـان رسـولی، ورک کـړي.

ځـلا او ملگـرې یـې لا خـبرې کولـې چـې د رخصتـۍ زنـگ وکړنگېـد او دواړه د خپلـو کورونـو پـر لـور روانـې شـوې.

ځـلا لـه خپلـو ټولـو ښـو عادتونـو سره سره پـه کـور کـې د ورونـو لـه خـوا توهینېدلـه او سـپکاوی یـې کېـده. ورونـو بـه یـې تـل پـه لـوړ غـږ ورتـه ویـل:



نجونـې ښـوونځي تـه نه‌ځـي، بـار بـار مـو درتـه وویـل چـې ښـوونځي تـه مه‌ځـه، خـو تـه روانـه یـې، هـرو مـرو بـه مـو یـوه ورځ شرمنـده او تورمخـي کـړې.

ورونـو یـې د دې له‌پـاره چـې خپـل ظالمانـه چلنـد توجیـه کـړی وي، همېـش بـه یـې د پښـتني کلتـور بـا ارزښـته او رښـتیني بڼـه چـې تـل پـر مسـاواتو او د مېرمنـو پـر حقونـو ټینـګار لـري، پټـه سـاتله او ښـځې بـه یـې د کـور او ګـور ګڼلـې.

څـلا د خپـل ټولګـي اول نومـره او ډېـره هوښـیاره نجلـۍ وه، او پـه دې ښـه پوهېـده چـې د ورونـو خـبرې یـې یـوازې د ډارولـو او لـه ښـوونځي څخـه د دې د منـع کولـو له‌پـاره دي. پـه هـره انـدازه بـه چـې دغـو خـبرو زور اخسـت لـه درس او ښـوونځي سره بـه د څـلا مینـه او علاقـه څـو چنـده زیاتېدلـه.

څـلا بـه اکثره وخـت پـه درس ویلـو بوختـه وه، خـو د کـور پـه کارونـو کـې هـم نـه پاتـې کېـده. ورونـو یـې نه‌یـوازې د کـور پـه کارونـو کـې برخـه نـه اخسـته، بلکـې خپـل کارونـه یـې هـم پـه خوینـدو تـرسره کـول، خـو چـې لـه خوینـدو بـه څـه پاتـې شـول بیـا بـه یـې ورسره تاوتریخوالـی او زورزیاتـی کاوه.

د ډوډۍ پـر وخـت بـه هـم خپـګان پـر دسـترخوان او د کورنـۍ پـر غـړو سـیوری غوړولـی و. هلکانـو تـه بـه یـا بېـل پخلـی کېـده او یـا بـه یـې مـور ښـه او غـوړ خـواړه د هلکانـو مـخ تـه اېښـودل او لوڼـې بـه یـې وچـې او سـپوره ډوډۍ تـه ناسـتې وې. نجونـې ښـه خـوراک نه‌څورولـې، بلکـې لـه

توپیـري چلنـد څخـه پـوزې تـه راغلـې وې.

ښـه خـواړه بـه هلکانـو خـوړل، ښـه پوښـاک بـه د هلکانـو و، د خوښـیو پـه ورځ بـه تفریحځایونـو تـه هلـکان روان وو، خـو خـواره ځـلا او خوینـدې بـه یـې لـه هرڅـه محرومـې وې. نجونـو تـه نه‌یـوازې د وروڼـو پـه نسـبت کـم څـه رسـېدل، بلکـې د کورنـۍ د نـورو غـړو د رټلـو او سـپکو سـپورو بـار یـې هـم پـر اوږو پـروت وو.

پـه کورنـۍ کـې شـته توپیـر د وخـت پـه تېرېـدو سره نـور هـم ډېـر شـو، او د ځـلا او وروڼـو ترمنـځ یـې دومـره ډېـره کینـه او نفـرت وزېـږاوه چـې د مینـې او صمیمیـت پـه نـوم هېـڅ هـم پـه کـور کـې نـه تـر سـترګو کېـدل.

ډېـره مـوده تېـره شـوه، خـو د ځـلا چوپتیـا هېـڅ ماتـه نه‌شـوه او پـه هماغـه زنـدان کـې یـې شـپې ورځـې سـبا کولـې چـې نـاوړه دودونـو ورتـه جـوړ کـړی و.

مګـر لـه دې ټولـو سـتونزو او کړاوونـو سره سره ځـلا د زده‌کـړې او تحصیـل لار نـه پرېښـوده؛ ځـلا پوهېدلـه چـې لـه هـرې تیـارې وروسـته رڼایـي راځـي او همـدا زده‌کـړې او تحصیـل دی چـې خپلـې راتلونکـې هیلـې او ارمانونـه ور پـورې تړلـی شي.

وروڼـه یـې ان دومـره سـپین سـترګي شـول چـې پـه خوینـدو پـه تېـره بیـا پـه ځـلا بانـدې یـې د بـد اخلاقـۍ او بدلمنـۍ تورونـه پـورې کـړل. همېـش یـې د خوینـدو پـر لبـاس انتقادونـه کـول او تـل بـه یـې د ناسـتې پاسـتې پـر سر جنګونـه وو.

د جمعـې ورځ وه، ځـلا همـدا چـې د کـور نـور کارونـه خـلاص کـړل، د



کاليـو مينځلـو تـه کېناسـته. د کورنـۍ نـور غـړي په کلي کې واده تلـلي وو، پـه کـور کـې ځـلا لـه خپلـې خـور او ورينـدار سره يـوازې پاتـې وه.

تر لږ ځنډ وروسته دروازه ټکېږي او ځلا د وره له شا پوښتي:

څوک يې؟

دروازه ټکوونکی: زه يم عزيز، ستاسو کليوال!

پـه کـور کـې نارينـه نه‌شـته؛ ځـلا حيرانيـږي چـې ور پرانيـزي او کـه نـه، بالاخـره ور نه‌پرانيـزي او خپلـې ورينـدار تـه ورځـي او وايـي:

- ورينـدارې زمـوږ کليـوال عزيزخـان راغلـی، دروازه ورتـه خلاصـه کـړم او کـه نـه؟

وريندار يې په ځواب کې وايي:

- هـو، خلاصـه يـې کـړه پـه دې کـې خـو څـه سـتونزه نه‌شـته، کـه ور يـې پرمـخ وتـړو بـده ده.

ځـلا د خپلـې ورينـدار پـه لارښـونه ور پرانيـزي او مېلمـه تـه لارښـوونه کـوي چـې مېلمسـتون تـه ولاړ شي. مېلمـه چـې د غرمـې ډوډۍ خـوري او پـه دې پوهېـږي چـې نارينـه نه‌شـته دی، خـدای پامـاني کـوي او پـه خپـل کار پسـې ځـي.

ځـلا تـر غرمـې وروسـته يـوه شـيبه سر ږدي او ويـده کېـږي. ناوختـه مهال يـې چـې ورونـه کـور تـه راځـي او د کليـوال لـه راتگـه خبرېـږي، غوغـا جـوړوي. کـمال چـې تـر ټولـو مـشر او تـر ټولـو ظالم او خـراب خويونـه لـري ، پـه ځـلا پسې ورمنـډه اخـلي او پـه ويـدو يـې رانيـسي او ډبـوي يـې. ځـلا حيرانـه دريانـه وي، مخکـې لـه دې چـې د ځـان سـپيناوی وکـړي



خوله او پزه یې په سرو وینو رنګ شوې وې. ورور یې نه‌یوازې سپکې سپورې ورته وایي، بلکې ځلا په بدلمنۍ او بداخلاقۍ هم تورنوي.

له دغې پېښې کابو کال تېر شو او ځلا نهم ټولګي ته بریالۍ شوه. نهم ټولګي د ځلا له‌پاره له ځانه سره نوې تجربې لرلې. ځلا تر ټولو کشرۍ وه، خویندې یې د واده په عمر برابرې وې او دوې خویندې یې بې له دې چې تر‌ې پوښتنه وشي، ځنې واده شوې.

ځلا بیا هم د خوشحالۍ مخ ونه‌لید او خپلو خویندو ته ځوربدله. ځکه د خویندو ژوند د پلار د کاله په پرتله لا نور هم پسې خراب شو.

د مشرې خور مېړه یې تر واده کابو لس ورځې وروسته بهر ته لاړ او خوابنې یې وربانديې ظلمونه شروع کړل. کلونه کلونه تېر شول، خو د ژوند ملګرۍ رانغی او خور یې تشو دیوالونو ته خپل ناویتوب تېر کړ.

دویمه خور یې شفیقه، تر واده ځو میاشتې پس د خسرګنۍ د نادودو او ناوړه چلند له امله بېرته د پلار په کاله کېناسته.

وروڼو یې ځلا ته پېغورونه ورکول چې خویندې یې د خپلو بدو اخلاقو له امله له خسرګنۍ سره ګزاره ونه‌کړه او ته چې تر هغو څو چنده بداخلاقه یې د واده په اوله شپه به دې راوشړي.

د دغسې خبرو په اورېدو به د ځلا سر وځرخېد او ژوند به وربانديې تنګ شو، خو د همدغسې تنګسې سره سره یې بیا هم هڅوله چې په خپلو درسونو کې لا ډېر کوښښ وکړي.


روزنیز مرکز

د وخـت پـه تېرېـدو سره د ځـلا موخـې او اهـداف هـم لـوی شـول، کلـه بـه یې ځـان د یـوې سفیرې پـه بڼـه لیـده او کلـه هـم د یـوې وزیـرې پـه توګـه...

درسي بوختیـاوو او د ځـلا کوښښـونو د هغـې ورونـه وېـرولي وو او د دې لهپـاره چـې د هغـې مخـه یـې نیـولي وي، تـل بـه یـې ځورولـه. ان داسـې ورځ هـم راغلـه چـې کـمال د ځـلا لـه لاسـه کتابونـه واخسـتل او څېـري یـې کـړل.

یـوه ورځ یـې مېلمنـو تـه د چـای نـه دمولـو پـه پلمـه پـه سـیخ وداغلـه او د ځـلا چېغـې او فریادونـه یـې اسـمان تـه پورتـه کـړل.

خـو ځـلا تـر پایـه لـه دغـو سـتونزو سره مبـارزه وکـړه او هـر څـه یـې پـه صـبر او زغـم وزغمـل.

څـو کالـه پـس ځـلا دولسـم ټولګـي تـه بریالـۍ شـوه. ځـلا د خپلـو ورونـو لـه لاسـه پـه لانـدې صنفونـو کـې لـه کورسـونو محرومـه پاتـې شـوې وه، خـو همـدا چـې د دولسـم ټولګـي پـه وره یـې پښـه کېښـوده د کانکـور ازموینـې فکـر یـې پـه سر کـې غځونـې وکـړې او پـه کـورس کـې یـې د نوملیکنـې اړتیـا احسـاس کـړه.

پـه کـورس کـې د داخلـې لهپـاره یـې د ورونـو اجـازه اړینـه وه. بالاخـره تـر ډېـرو سـپکو سـپورو او رټـل کېـدو وروسـته پـه دې وتوانېـده چـې لـه ورونو اجـازه واخـلي او پـه کـورس کـې نوملیکنـه وکـړي.

ځـلا کـه څـه هـم خپـل کورنـی ماحـول ښـه پېژانـده او د کورنـۍ غـړو لـه منفي چلنـد هـم ښـه خـبره وه، خـو دولسـم ټولګـي یـې پـه ژونـد کـې نـوی

فصل پرانست او د ژوند یوه نوي پړاو ته دننه شوه.

ځلا د خپلو وروڼو په څېر کوم ښه ښوونځي ته نه‌وه تللې، په ډېرو ټولګیو کې به یې زیاترو مضامینو ښوونکي نه‌درلودل، په ځانګړې توګه د ریاضي مضامینو لپاره.

کله چې د کانکور چمتووالي کورس پیل شو، ځلا د خپلې راتلونکې لپاره خپلې ډېرې هیلې له لاسه ورکړې. ځکه ځلا ته ډېری ساینسي مضامین نه‌وو تدریس شوي او که ورته تدریس شوي هم وو، د داسې استادانو له خوا ورته ویل شوي وو چې خپله ښوونکي هم په هغو مضامینو برلاسي نه‌وو.

ځلا په دې پړاو کې هم د ژوند سختې شیبې تېرولې، ټولګیوالې ځنې مخکې برېښېدې، ځکه په لاندې صنفونو کې یې د فرعي صنفونو په نیولو سره ټول ساینسي مضامین خلاص کړي وو او اوس د کانکور چمتووالي کورسونو لپاره چورلټ تیارې وې.

له بده مرغه ځلا بې له دې چې له مخکې کوم تیاری ولري د کانکور چمتووالي په صنف کې کېناسته. ډېری وخت به یې د سوالونو ځوابولو پر وخت سترګې له اوښکو ډکې وې، خو له دې ټولو سره سره ځلا له خپلو هڅو لاس وانه‌خست او مخ پر وړاندې روانه وه. هغې له ځانه سره ژمنه کړې وه چې زیار به وباسي او خپلو اهدافو ته به ځان رسوي.

ځلا په ځان باندې شپه او ورځ یوه کړې وه او درسونه به یې ویل، دوه-درې میاشتې وروسته د دې جوګه شوه چې له خپلو ټولګیوالو

نجونو سره سيالي وکړای شي. د هرې ورځې په تېرېدو سره به په ځان باندې د ځلا ډاډ زياتېده، خو اقتصادي ستونزو لاهم ځوروله او د کورس د فيس له درکه ۱۵زره افغانۍ لاهم پوروړې وه. سره له دې چې کورنۍ يې کومه اقتصادي ستونزه نه‌درلوده، خو د فيس له ورکړې يې ډډه وکړه. ځلا دغه پيسې د ماشومتوب له وخته د پيسو ټولولو له خاورينې کڅوې څخه پوره او ورکړې.

د کانکور ازموينې راورسېدې. رښتيا يې ويلي دي: برياليتوب ته رسېدل لوړ عزم او هڅې غواړي. د نورو لوړو ژورو په دوام د ازموينې ورکړه هم بې‌جنجاله نه‌وه. کله چې د ازموينې په ورځ پوهنتون ته لاړه؛ د امتحان له صحنې بهر وويستل شوه، ځکه پېژندپاڼه ځنې هېره شوې وه.

بالاخره له متفرقه زده‌کوونکو سره يو ځای يې ازموينه ورکړه او کابو پنځه مياشتې د پايلو اعلان ته په تمه پاتې شوه. دا پنځه مياشتې داسې وربانـدې تېرې شوې لکه پنځه کاله چې پرې تېر شوي وي. د هغې ټولې هيلې د همدغې ازموينې په پايلو پورې تړلې وې. بالاخره د ازموينې پايلو د اعلان ورځ راورسېده!

ورونه يې بې پروا او په کيسه کې يې نه وو، په خويندو کې يې فقط يوې خور د پايلو سرچينې ته لاسرسی درلود او نوموړې هم په دغه ورځ په کور کې نه وه، په ډېره ستونزه يې ورسره اړيکه ونيوله او د نتايجو د کتلو غوښتنه يې ځنې وکړه. لږ ځند وروسته د ټليفون زنګ وکړنګېد:

ځلا: هلو...

خور: سلام ځلا!

ځلا : وعلیکم سلام خورې د کانکور پایلې څنګه شوې؟

خور : خفه کېږه مه، ناکامه شوې یې!

ځلا : څه وایې!

ځـلا، ګیچـه پاتـې شـوه، کـم پاتـې و چـې زړه یـې ودربـږي. ټلیفـون لا نـه و پـرې شـوی، خـور یـې لـه هیجانـه پـه ډک انـداز پـرې غـږ کـړ:

ځـلا، کامیابـه شـوې یـې، د خپلـې خوښـې پوهنځـي تـه، حقـوق او سـیاسي علومـو تـه!

ځـلا لـه ډېـرې حیرانـۍ پـه چیغـو او ژړا سر شـوه، نهپوهېـده چـې خپـل احساسـات څنګـه څرګنـد کـړي، دا هغـه شـیبه وه چـې د ځـلا خوبونـه پـه کـې پـه حقیقـت بـدل شـوي وو.

د ځـلا دغـه خوشـحاله ډېـره ونهغځېـده، همـدا چـې ورونـه یـې کـور تـه راغلـل او خـبر شـول؛ نـو لـه خپګانـه یـې پـه ښـکنځلو، سـپکو او سـپورو بنـا وکـړه:

کـمال: مـورې دا هـر څـه سـتا د بـې ځایـه ملاتـړ نتیجـه ده. اوس بـه فاکولتـه وایـې، چـې فارغـه شـوه بیـا بـه څـه او څـه کـوي!

ځـلا: وروره تـه ولـې غوسـه یـې، تـه بایـد وویـاړې چـې پـه ټولـو خپلوانـو کـې مـې لـوړه نومـره ګټلـې ده.

کـمال : واه، واه... راشـه کـه تودېـږي، یـو قـدم بـه هـم رانـه پوهنتـون تـه وانهخلـې!

ځـلا د دغـې خـبرې پـه اورېـدو پـه ژړا سر شـوه او ویېویـل: د خـدای





روی تــه وگــوره دغســې مه‌کــوه.

کـمال: کـه ټـول عمـر هـم اوښـکې تویـې کـړې، بیـا دې هـم پوهنتـون تـه نـه پرېـږدم. لاس دې خـلاص!

مگـر ځـلا ډېـره طالع‌منـده وه. د کانکـور پایلـو تـر اعـلان ځـو ورځـې وروسـته یـې مامـا لـه بهـره راسـتنېږي او ورپسـې د دوی کـور تـه سر ور ښـکاره کـوي. مامـا یـې همـدا چـې پوهنتـون تـه د ځـلا لـه کامیابېـدو خبرېـږي، پـه خوشـحالۍ ورتـه وایـي:

ځلاجانـې زمـوږ سـترگې دې جگـې کـړې او پـه ټولـو خپلوانـو کـې دې زموږ نـوم روښـانه کـړ، درتـه مبارکـي وایم!

ځـلا : ماماجانـه! مـا خـو نـوم روښـانه کـړ، خـو ای کاش چـې ځـوک مـې د دغـه نـوم سـاتلو تـه تـر پایـه پرېـږدي.

مامـا: زه دې پـه خـبره پـوه نه‌شـوم، دا تـه ځـه وایـې؟ ښـکاره خـبره کـوه، ځـه کیسـه ده؟

ځلا: ورونه مې نه پرېږدي چې پوهنتون ته لاړه شم.

ماما: ولې؟

ځلا: دوی وایي چې پېښتنې نجونې پوهنتون ته نه‌ځي!

د ځـلا مامـا چـې دا خـبره واورېـده، لـه غوسـې تـک شـین واوښـت او پـه بیـړه پـه کـمال پسـې ورغـی: کمالـه دا زه ځـه اورم!

کمال: ولې ماما ځه خبره ده؟ ولې داسې په غوسه یې؟

ماما: ستاسې ناپوهۍ په غوسه کړی یم.

کمال: ولې څه مو کړي دي؟

ماما: ځـلا ولـې پوهنتـون تـه نـه پرېـږدئ؟ ولـې يـې د درس او زده‌کـړو مخـه نيسـئ؟

کـمال: ماماجانـه خـور او لـور خـو د کـور نامـوس وي، او د کـور نامـوس لـه کـوره دبانـدې وخـت نه‌تېـروي!

ماما: ډېـر د تاسـف ځـای دی، نـړۍ چېرتـه ورسـېده او مـوږ پـه کـوم ځـای کـې يـو. ښـځه پـه يـوه لاس زانګـو او پـه بـل لاس جهـان زنګـوي. حـضرت عايشـه بي بي لـه هغـو مېرمنـو څنـې وه چـې د اسـلام مبـارک ديـن پـه پرمختـګ کـې يـې ډېـر عمـده نقـش لوبولـی او ډېـر احاديـث يـې لـه پيغمـبر عليه‌السـلام را نقـل کـړي او لـه همـدې کبلـه پـه نبـي کريـم صلي‌اللــه عليــه وسـلم ډېـره ګرانــه وه. مــوږ بايــد رښــتيني مســلمانان واوسـو او د خپـل خـوږ پيغمـبر لارښـوونې تعقيـب کـړو او ښـځو تـه ونـډه ورکـړو چـې د ټولنـې پـه رغـون کـې خپلـه ونـډه ولـري.

کـه څـه هـم د مامـا خـبرو پـه کـمال ډېـره اغېـزه ونه‌کـړه، خـو دومـره تاثيـر يـې وکـړ چـې پوهنتـون تـه يـې د ځـلا د تـګ پـه رابطـه يـو څـه نرمـي ښـکاره کـړه او لـه خپـل پخـواني ټينـګاره پـه شـا شـو.

ځـلا پوهنتـون تـه لـه نويـو هيلـو سره روانـه شـوه، دا پـه حقيقـت کـې د ځـلا پـه ژونـد کـې يـو بـل فصـل و. ځـلا لـه ډېـرې خوښـۍ پـه جامـو کـې نـه ځاييـده، خـو دريغـه چـې دغـې خوښـۍ يـې هـم ډېـر دوام ونـه مونـد. ځکـه پـه کـور کـې ورسره تشـدد او تاوتريخوالـی ورځ تـر بلـې زياتېـده او د پوهنتـون خوښـۍ يـې څنـې تروړلـې.

هيله هدايي



که څه هم ځلا هڅه کوله چې د کورنۍ په پیغورونو غوږونه کاڼه کړي، خو څه ناڅه یې بیا هم پرې اغېزه کوله او د همدغو اغېزو له امله وه چې پوهنتون کې د ښوونځي په څېر اول نومره نه‌شوه.

ځلا به ډېری وخت په سوچونو کې ډوب وه، ډېرې خبرې یې نه‌کولې، له ټولګیوالو نجونو سره یې ناسته پاسته لږ وه او ډېری وخت به ګوښې په یوه څنډه کې ناسته وه. مدام به یې د ورونو له پیغوره ډکو خبرو په غوږونو کې ازانګې کولې او ځورېدله به.

دغه وضعیت یې د درسونو بهیر زیانمن کړی و، درسي هڅې یې زیاتې وې، خو پایلې به د پام وړ نه‌وې. کابو یو نیم کال یې همدغسې تېر کړ، د کمترۍ احساس په کې ډېر پیاوړی شوی و او داخلي قوت او تلقین یې له لاسه ورکړی و. د دریېم سمستر ازموینې راورسېدې او تېرې شوې، خو نتیجه تر پخوا هم بې‌مزې وه او ډېرې کمې نومرې یې واخستې.

کور ته چې راغله په ژړا یې ځان ستړی کړ:

ولې، اخر ولې، ولې... لویه خدایه ته په هر څه بینا یې، هېڅ مې له تا پټ نه‌دي، ته مهربانه او په هر څه اګاه او خبر یې!

یا پروردګاره ته مې وینې چې له ټولو کړاوونو سره سره بیا هم هڅه کوم او صبر کوم. کورنۍ ستونزو راته ژوند دوزخ ګرځولی، خو پټه خوله یم او سترګې مې ورباندې پټې کړې دي، فقط خپلو درسونو ته مې زور ورکړی، خو نه‌پوهېږم چې ولې نه بریالۍ کېږم؟

ځلا هومره ډېر وژړل او هومره ډېر یې له خپل رب سره د زړه حالونه

شريک کړل چې بالاخره په همدې کې خوب يوړه او سترګې يې پټې شوې .

سهار وختي د ملا اذان په اورېدو راوېښه شوه، لمونځ يې وکړ او الله تعالي ته يې بيا د دعا په پار لاسونه لپه کړل. د کور تر کارونو وروسته بيا پوهنتون ته رهي شوه.

نن د ځلا لهپاره يوه ځانګړې ورځ وه، له يوې خوا يې خپل رب ته زړه تش کړی و او له بلې خوا يې له ځان سره ژمنه کړې وه چې له دې وروسته به د خپلو ټولو خپلوانو په ترخو خبرو غوږونه کڼوي، که نه نو له هغه پرته منزل مقصود ته نهشي رسېدلی.

په همدې سره ځلا له خپلو کورنيو ستونزو سره مبارزه نوره هم چټکه کړه، او د پوهنتون له درسونو سره سره يې په نورو فعاليتونو کې هم برخه اخستل پيل کړل. څو مياشتې لا نهوې تېرې شوې چې د بل سمستر ازمويني راورسېدې او ځلا په کې اول نومره شوه. خو دا هغه څه نهوو چې ځلا يې بايد په ترلاسه کولو سره پرې بسنه کړې وای. د ځلا هيلې، ارمانونه او موخې ډېرې لوړې وې. هغې په ځان منلې وه، که چېرې سل ځلې هم ولوېږي، بيا به هم په ځان کې د راپورته کېدو وړتيا او قوت پيدا کوي.

وخت په تېرېدو وو، له يوې خوا کورنی تاوتريخوالی او له بل لوري د ځلا هڅې رواني وې. هغې له ډېرو کړاوونو سره سره خپلو زدهکړو ته دوام ورکړ او دا بهير يې جاري وساته.

ډېری خلک چې د زدهکړې او کار په برخه کې زيار باسي، کله چې

کـور تـه راشي د سـالم چاپېریـال لـه املـه یـې ټولـې سـترېیاوې لـه منځـه لاړې شي، خـو دا مقولـه د ځـلا پـه ژونـد کـې برعکـس وه، ځکـه د سـترېې ورځـې ترخنـګ بـه د کـور کرغیـړن محیـط هـم پـر مـخ څپېـړه ورکولـه او د سـکون او ارامښـت لەپـاره یـې هېـڅ ځـای نـه مونـدل کېـده.

پـه همـدې کـش و ګیـر کـې بـل کال هـم تېـر شـو او ځـلا پـه لـوړه درجـه پوهنتـون پـای تـه ورسـاوه. ځـلا د نـورو مهارتونـو ترخنـګ پـه انګلیـسي ژبـې هـم پـوره تسـلط درلـود او د همـدې اسـتعداد لـه کبلـه وه چـې اسـتادانو یـې د ماسـټرۍ لەپـاره د انګلسـتان بـورس تـه معـرفي کـړه.

بـورس تـه خـو معـرفي شـوه، مګـر سـتونزه د پخـوا پـه څېـر پـه خپـل ځـای وه. ورونـو چـې پـه هېـواد کـې دننـه پوهنتـون تـه نەپرېښـوده لـه هېـواده بهـر بـه یـې ماسـټرۍ تـه څنګـه پرېـږدي.

ځـلا ډېـرې زارۍ وکـړې، خـو چـا ونەمنلـه او بالاخـره پـه پټـه د ماسـټرۍ لەپـاره انګلسـتان تـه وخوځېـده.

ځـلا داسـې یـوه هېـواد تـه لاړه چـې یـوازې یـې پـه کتابونـو کـې پـه هکلـه یـو څـه لوسـتي و، نـور پـه هېـڅ نـەوه خـبره. دغـه پـردي هېـواد، ناپېژانـده خلکـو، د درس فشـارونو او د کورنـۍ خپګانونـو پـه ناخرګنـده او نامریـي توګـه هغـه لـه دننـه څخـه ځورولـه.

مګـر لـه دې ټولـو سره سره ځـلا د تمځـای پـه نـوم څـه نەپېژنـدل او پلـې مختـه روانـه وه.

خلـک ډېـری وخـت یـوازې بریـالي خلـک وینـي، خـو د بریالیتـوب پـر لـور د چـا مزلونـه نەوینـي او یـا یـې لـه یـاده بـاسي. بریالیتـوب پـر ژبـه ډېـر

اسانه دی، خو دا چې په عمل کې څنګه ترلاسه کېږي یوازې بریالي خلک پرې پوهېږي.

ځلا د همدغه مزل په نیمایي کې وه، او شته وضعیت ډېره لالهانده ساتلې او په دې یې سر لا نه خلاصېده چې اصلي زخم خو لا پاتې دی چې د ژوند په کتابچه کې یې ولیکل شي.

شپې او ورځې په یو بل پسې تېرېدلې، ځلا هم په خپلو درسونو بوخته وه. له زده‌کړو سره یې خپلې ټولنیزې اړیکې هم ښې پاللې او وخت ناوخت به یې په ځینو نورو ټولنیزو فعالیتونو کې هم برخه اخسته او له همدې کبله وه چې ډېرې جایزې یې هم ترلاسه کړې.

ځلا چې په هېواد کې وه، وخت ناوخت به یې په زړه کې ګرځېدل چې موټر چلول زده کړي، خو دلته موټر چلول خو پر ځای پرېږده چې پر ژبه هم د دغې هیلې څرګندول بد ګڼل کېږي.

کله چې انګلستان ته لاړه او هلته یې د ټولو ملګرو موټر چلول زده وو، ځلا هم دا یو ښه فرصت وباله او د موټر چلولو زده‌کړې ته کېناسته او په ډېره لږ موده کې په دې بریالۍ شوه چې د موټر چلولو لایسنس واخلي.

کرار کرار د ماسټرۍ دورې د پای شیبې رانږدې شوې او ځلا په کې ښه وځلېده. په وروستۍ ورځ چې د ماسټرۍ پروګرام پای ته ورسېد او سندونه ووېشل شول، ځلا کور ته د راتګ نیت وکړ او په همدې موخه د هوایي ډګر پر لور روانه وه. له ځلا سره په موټر کې ځینې


University

نوري ملګرې هم سپرې وې، هغوی د دې لهپاره راروانې شوې چې تر هوايي ډګره يې بدرګه کړي. له دوی سره خپل موټر وو. ځلا د موټر چلولو ډېره لېواله وه او کله به چې له خپلو ملګرو سره دباندې وتله؛ نو کوښښ يې کاوه چې د موټر اشترنګ ته په خپله کيني. په دې وروستيو ورځ هم ځلا د موټر اشترنګ ته ناسته وه او د هوايي ډګر پر لور يې مزلونه لنډول. تر څه مزله وروسته د ځلا موبايل ته زنګ راغی:

ځلا : هلو، هلو...

کمال: سلام ځلاجانې، زه يم کمال!

ځلا: سلام وروره، څنګه يې؟

کمال: ښه يم، ته څنګه يې؟ نن خو به له خيره د کور په طرف حرکت کوې؟

ځلا: هو، دا اوس د هوايي ډګر پر لور روانه يم.

ځلا حيرانه وه چې ورور څنګه ورته ټليفون کړی. ځلا ګومان کاوه ښايي ورونو يې خپله تېروتنه حس کړې او په خپلو کړنو پښېمانه وي؛ نو ښايي د همدې لهپاره يې ورته ټليفون کړی وي.

ځلا د ورور په چيغه له دغو سوچونو راووته.

کمال: غبږ مې اورې او که نه ؟ ولې ځواب نه راکوې، څه ټکه دربانـدې راغورځېدلې ده؟

ځلا: وبښه وروره، غږ مې دې وانهورېد، تاسې څه ويل؟



کمال: دا ډېر وخت کېده چې زموږ د کلي اجمل کاکا د خپل زوی له‌پاره ستا غوښتنه کوله، پرون هم راغلي وو، ډېرې زارۍ يې کولې او د دغه سپين‌ږيري غوښتنه مو ځمکې ته ونه‌شوه غورځولی او پرون مو د هغه زوی زيارگل ته ستا شيريني ورکړه.

ځلا: دا څه وايې ته؟

ځلا د دې خبرې په اورېدو کابو بې‌خوده غونډې شوه. زيار تر اووم ټولگي پورې سبق ويلی او تر دې بريده هم د پلار د واسطو په زور رسېدلی و. سربېره پر دې زيار د هغو هلکانو له ډلې څخه و چې خپل بد به ورته بد نه ښکارېدل. د دې ترڅنگ زيار د هغو کسانو په ډله کې راته چې له ښځو سره په تاوتريخوالي مشهور و او د هغوی د درس، زده‌کړو او کار مخنيوی به يې کاوه.

ځلا ته دا ډېره حيرانوونکې وه چې ورور يې دا دومره لويه خبره ورته په دومره اسانۍ کړې وه؛ په داسې انداز يې دا خبره ورسره مطرح کړې وه چې گواکې هېڅ هم نه‌وي واقع شوي. د ځلا فکر نور هېڅ کار نه‌کاوه، لاسونه او پښې يې بې حسه شوي وو او دا يې هېر و چې د موټر اشترنگ ته ناسته ده او موټر چلوي.

د ځلا تېر ژوند، د ماشومتوب هيلې او ارمانونه خو يې وروڼو له خاورو سره خاورې کړي وو او اوس په دې هڅه کې وو چې راتلونکې يې هم تباه او برباد کړي.

ځلا ناڅاپه د خپلې ملگرې په چيغه را په خود شوه:

ځلاااااا پام کوه!

ځـلا پـه وارخطايـۍ خپلـو همزولـو تـه وکتـل، تـر هغـې چـې را پـه خـود کېدلـه درز شـو، موټـر پـه مخامـخ کرینـګ ورغـی او پـه بـل مـخ واوښـت.

لـږ ځنـډ وروسـته د امبولانسـونو د الارم اواز تـر غـوږ شـو او ټپيـان يـې پـه بيـړه روغتـون تـه ولېـږدول.

د ځـلا درې ملګـرې سرسري خـوږ شـوې وې، خـو ځـلا او يـوه بلـه ملګرې يـې د کومـا پـه حـال کـې وې.

د پېښـې پرمهـال کـمال د ټليفـون پـر ليکـه و او څـه ناڅـه پوهېدلـی و چـې خـور يـې لـه کومـې پېښـې سره مـخ شـوې ده.

کـمال څـو ورځـې هاخـوا ديخـوا پوښـتنه وکـړه، خـو د ځـلا هېـڅ درک ونه‌لګېـد. کابـو دوه مياشـتې تېـرې شـوې، خـو ځـلا لا هـم لادرکـه وه او نـه مونـدل کېـده.

لـه بـل لـوري د ځـلا خسرګنـۍ اوازه ګـډه کـړې وه چـې ځـلا تښـتېدلې او دوی تـه يـې سـتره بـې ننګـي او شرم اړولـی دی. دوی پرلـه پسـې د ځـلا کورنـۍ ګواښـله چـې ځـلا ورتـه راپيـدا کـړي. داسـې ورځ بـه نـه‌وه چـې د ځـلا دوی پـه کـور کـې دې د دواړو طرفونـو څـو تنـه مرکچيـان نـه‌وي ناسـت. پـه دې کـې شـپږ مياشـتې تېـرې شـوې. بالاخـره مرکچيانو پرېکـړه وکـړه چـې کـمال دې د ځـلا پـه بـدل کـې د هغـې خسرګنـۍ تـه خپلـې دوې وړې نجونـې پـه بـدو کـې ورکـړي؛ داسـې يـوه پرېکـړه چـې لـه هېـڅ انسـاني قامـوس سره يـې اړخ نه‌لـګاوه، ځکـه دوې کوچنـۍ نجونـې د دې پرځـای چـې د ماشـومتوب لوبـې وکـړي، د بدمرغيـو ګـرداب تـه

وغورځـول شـوې.

سربېـره پـر دې مرکچیانـو کـمال اړ کـړ چـې دوه سـوه زره افغانـۍ هـم د ځـلا خسرګنـۍ تـه ورکـړي.

دغـې بدبختـۍ د کـمال پـه خپلـه غلطـه پرېکـړه کـې رېښـه لرلـه، کـه چیـرې هغـه پـه غیـاب کـې ځـلا نـه‌وای ورکـړې، اوس بـه لـه دغـه مصیبـت سره نـه‌وای مـخ او د بې‌ګنـاه ماشـومانو ژونـد بانـدې بـه قـمار نه‌وهــل کېــدای.

کـمال لـه هـرې خـوا تـر فشـار لانـدې وو، لـه یـوې خـوا پـه حـق کـې یـې ناحقـه پرېکـړه شـوې وه او لـه بـل لـوري یـې پـه خور(ځـلا) بانـدې د تېښـتېدو تـور پـورې شـوی و، خـو لـه حقیقتـه تـول بـې خـبره وو او هېڅـوک نه‌پوهېـدل چـې ځـلا چېرتـه ده او پـه څـه حـال کـې ده او څـه کـوي.

میاشـتې پـه یـو بـل پسـې تېرېـدې، خـو ځـلا لا هـم د انګلسـتان پـه یـوه روغتـون کـې د کومـا پـه حـال کـې پرتـه وه او لـه ځانـه بې‌خـوده او بـې خـبره وه. ځـلا کلکـه ژوبلـه شـوې وه او د رابیدارولـو له‌پـاره یـې د روغتـون د ډاکټرانـو هڅـې تـر ډېـره بـې نتیجـې پاتـې وي، خـو ناهیـلي نـه‌وو او بیـا بیـا یـې هڅـه کولـه چـې نجلـۍ د کومـا لـه حالـت څخـه راووځـي.

بـل خـوا د روغتـون کارکوونکـو پـه ځلونـو ځلونـو هڅـه وکـړه چـې د ځـلا لـه کورنـۍ سره اړیکـه ونیـسي. سـتونزه پـه دې کـې وه چـې د ځـلا موبایـل او نـورې اړینـې پېژندپاڼـې د موټـر پـه ټکـر کـې لـه منځـه تلـلي وو او پـه اسانـۍ یـې ادرس نـه پیـدا کېـده. بالاخـره تـر اوږدو پلټنـو وروسـته

د روغتـون مسـوولينو هغـه پوهنتـون تـه مراجعـه وکړه پـه کـوم کې چـې ځـلا خپلـه ماسـټري پـای تـه رسـولې وه. هلتـه د کـمال د ټلیفـون شـمېره پـه لاس ورځـي او ورتـه زنـګ وهـي.

هلـو، زه پـه لنـدن کـې د NHS ۱۱۱ کارکوونکـی یـم او لـه روغتـون څخـه غږېـږم.

کمال: مهرباني وکړئ، څه خبره ده؟

کارکوونکی: ایا ځلا بنت قیام پېژنئ؟

کمال: ولې، څه ټکه رالوېدلې ده؟

کارکوونکـی: دا شـپږ میاشـتې کېـږي چـې ځـلا پـه روغتـون کـې د کوما پـه حـال کـې ده، مـوږ ډېـر کوښـښ وکـړ چـې ستاسـو د ټلیفـون نومـره راپیـدا کـړو، خـو ایلـه اوس پـه دې کار وتوانېـدو.

کـمال پـه بـدو کـې د خپلـو لوړو د ورکـړې لـه کبلـه ځـلا ملامتـه ګڼلـه، نـو لـه همـدې املـه یـې د روغتـون د کارکوونکـي پـه ځـواب کـې وویـل:

نه ښاغلیه، زه د ځلا په نوم څوک نه‌پېژنم.

کارکوونکـی: خـو دا شـمېره یـې مـوږ تـه پـه پوهنتـون کـې راکـړه، هغـه پوهنتـون چـې ځـلا پـه کـې ماسـټري کـړې ده.

کمال چورلټ منکر شو او پسې زیاته یې کړه:

نـه وروره، شـمېره بـه مـو غلطـه کـړې وي، زه ځـلا نـه پېژنـم او پـه دې پسـې یـې غـوږۍ کېښـوده او مکالمـه پـرې شـوه.

پـه اوومـه میاشـت، داسـې مهـال د ځـلا پـه وضعیـت کـې بدلـون تـر



سترګو شو چې ملګرې يې په پوښتنې ورغلې وې. نجونو په بېړه په ډاکټرانو پسې ورمنډه کړه، ډاکټران هم په بېړه د ځلا خونې ته دننه شول او معاينه يې شروع کړه.

تر معاينې وروسته ډاکټرانو په خوښۍ د ځلا همزولو ته وموسل او پسې زياته يې کړه:

مبارک دې وي، زموږ هېڅ باور نه کېږي چې د ځلا غوندې يوه ناروغه دې په شپږ- اووه مياشتو کې په خود شي، د ځلا د نن ورځې له وضعيت څخه داسې معلومېږي چې تر راتلونکې يوې مياشتې پورې به بيخي ښه شي.

ملګرې يې بې اندازې خوشحاله وې، سترګې يې له اوښکو ډکې شوې وې، پر هغو ځلا ډېره ګرانه وه، هغوی يې د راز ملګرې وې او ځلا ورته د خپل تېر ژوند د ناخوالو ټولې کيسې اورولې وې. هغوی هم نهغوښتل چې د ځلا هيلې، ارمانونه او زيارونه د مرګ خوراک شي. اصلاً له ډېرې خوښۍ په جامو کې نه ځاييدې او يو بل ته يې مبارکۍ ورکولې.

ځلا به په خپل حال پرېږدو. دلته په کابل کې د ځلا کورنۍ هم د ژوند ترخې شيبې تېرولې، کمال له دندې ګوښه شوی و، نورو ورونو يې هم په ډېرو کمو معاشونو کارونه کول. د کمال له لوڼو سره يې خسرګنۍ ډېر بد چلند کاوه. کمال او ورونه يې له يوه اړخه د کور له ناسازګارۍ سره مخ وو او له بل لوري يې له لورګانو سره د خسرګنۍ ناوړه او بد چلند تر سخت رواني فشار لاندې راوستی و،

کابـو ليونتـوب تـه نـږدې شـوی و.

دغـو فشـارونو يـې پـه کورنـۍ کـې دننـه هـم تاوتريخوالـی زېږولـی و او همېـش بـه د وروڼـو ترمنځ د پيسـو پـر سر شـخړې او لانجـې وې. ځينـې وخـت خـو بـه يـې د يـوه او بـل ګريـوان تـه هـم لاسـونه اچـول.

مشـهور متـل دی چـې وايـي «مه‌کـوه پـه چـا چـې وبـه شي پـه تـا» دوی پـه حقيقـت کـې د هغـو تېريـو او ظلمونـو پـور پـرې کاوه چـې د خوينـدو پـه حـق کـې يـې کـړي وو.

کومـې اوښـکې چـې خوينـدو تويـې کـړې وې، نـن دغـو نارينـه وو تويولـې، کومـې نـادودې چـې خوينـدو ليدلـې وې، نـن دغـو نارينـه‌وو ليدلـې.

د کـمال او ځـلا مـشرې خـور نه‌يـوازې کلونـه کلونـه د خپـل مسـاپر خاونـد پـه انتظـار تېـر کـړل، بلکـې کلونـه کلونـه يـې د خپلـې خسرګنـۍ نـاوړه چلنـد هـم وزغمـه.

شـفيقه چـې کلونـه کلونـه د پـلار پـه کـور ناسـته وه، ورينداريګانـو ورباندې رڼـا ورځ تـوره شـپه ګرځولـې وه. دغـو ټولـو سـتونزو لاسـونه سره يـو کـړي وو او د کورنـۍ د نارينـه‌وو ملاګانـې ور کړوپـې کـړې وې، خـو هېڅـوک پـه خپلـه تېروتنـه نه‌پوهېـدل، ځـو د اصـلاح او سـمون له‌پـاره يـې لاس پـه کار شي. دا پـه کابـل کـې د ځـلا د کورنـۍ حـال و.

زمـوږ ناروغـه کوتـره اوږده مـوده پـه بسـتر غځېدلـې وه او لـه ډېـره وختـه يـې د الـوت مـزه نـه‌وه څکلـې، خـو د هـرې ورځـې پـه تېرېـدو يـې وجـود پخوانـی قـوت بيـا مونـده او تکـړه کېدلـه. د ډاکټرانـو دې هـم کـور ودان وي چـې د ځـلا پـه درملنـه کـې يـې يـوه شـيبه غفلـت نـه کاوه. ملګـرې

یې هم وخت ناوخت پوښتنې ته ورتلې او ډاډینه یې ورکوله او د خپلو چکرونو کیسې به یې ورته کولې. ځلا دا هرڅه اورېدل، خو خبرې یې نه‌کولې او غلې به ناسته وه. د ملګرو هڅه یې دا وه چې خوشحاله یې وساتي او تېر غمونه یې له زړه وباسي.

یوه اوونۍ وروسته چې ملګرې یې بیا د لیدو لپاره ورغلې وې او ځلا یې په خپلو ټوکو ټکالو خندوله، متوجه شول چې ځلا یې په ځواب کې کرار کرار لاسونه خوځوي، چې ښه ورته ځیر شول د ځلا پښو هم حرکت درلود. نجونې حیرانۍ پسې واخستې او په ډاکټر پسې وخوځېدې. ډاکټر چې د ځلا معاینه خلاصه کړه په خوښۍ یې وویل چې ډېر ژر به په خبرو هم راشي.

د نجونو ټوکې ټکالې او د ډاکټرانو هڅې او کوښښونه لامل شول چې ځلا ډېره کمه موده پس هم خبرې وکړي او هم د بدن غړي وخوځوي. څو ورځې پس ډاکټرانو ورته داسې وویل:

ځلا جانې ته بیخي ښه شوې یې، موږ غواړو چې ته دوه درې ورځې نوره هم د معایناتو د بشپړولو لپاره پاتې شې او له هغه وروسته به دې خارج کړو.

ځلا حیرانه وه چې خپل احساسات څنګه څرګند کړي، هغه له مرګ راګرځېدلې وه او اوس هغه شیبه رارسېدلې وه چې د خپلو نیمګړو هیلو او ارمانونو د پوره کولو لپاره بیا په پښو درېده.

ځلا په همدغو سوچونو کې وه چې ناڅاپه څه ور یاد شول او په بیړه یې له ډاکټر څخه وپوښتل:

ايا زما له کورنۍ سره مو اړيکه نيولې وه؟

ډاکټـر: هـو، مـوږ هڅـه وکـړه ستاسـې لـه کورنـۍ سره اړيکـه ونيسـو، بالاخـره پـه دې کار وتوانېـدو، لـه پوهنتـون څخـه مـو ستاسـې د ورور ټليفـون شـمېره پيـدا کـړه، خـو کلـه چـې مـو زنـګ ورتـه وواهـه هغـوی وويـل چـې د ځـلا پـه نـوم ځـوک نه‌پېـژني.

ځـلا: پـه کومـه شـمېره مـو زنـګ وهلـی و، ايـا دغـه شـمېره ماتـه راکولـی شـئ؟

ډاکټـر: ولـې نـه، زه بـه د معلوماتـو شـعبې تـه ووايـم چـې شـمېره درتـه راوړي.

لـږ ځنـډ وروسـته د کاغـذ يـوه وړه پارچـه د ځـلا پـه لاس کـې وه او پـر کاغـذ ليـکل شـوې شـمېرې تـه يـې ښـکته پورتـه کتـل. شـمېره د کـمال وه، خـو هغـه ولـې د ځـلا لـه پېژندلـو انـکار کـړی و؟

دغـې پوښـتنې د کورنـۍ پـه نسـبت د ځـلا پاتـې هيلـې هـم پـه سـيند لاهـو کـړې، زړه يـې نـور هـم مـات شـو او د بې‌وزلـۍ او تنهايـۍ احساس يـې نـور هـم پسـې زيـات شـو، فقـط ځـلا پاتـې وه او هغـه ځـو تنـه ملګـرې يـې چـې دې ورسره دوه کالـه يـو ځـای تېـر کـړي وو.

ځـلا حيرانـه وه چـې ورونـو يـې پـه کومـه ګنـاه پـه دغسـې بـدو او سـختو شرايطـو کـې يـوازې پرېښـې ده. دا مسـئله کـه لـه يـوې خـوا د ځـلا له‌پـاره ځورونکـې وه لـه بلـې خـوا يـې ځـلا دې تـه وهڅولـه چـې پـه کـړو زده‌کـړو بسـنه ونه‌کـړي او دوکتـورا وکـړي. د ځـلا هـدف دا و چـې تـر دوکتـورا وروسـته، هـم د خپلـو هېوادوالـو له‌پـاره څـه خدمـت وکـړي او هـم د

خپلـو خوینـدو د دردونـو لەپـاره ملهـم شي.

همـدا چـې لـه روغتـون ووتـه، سمدلاسـه یـې د دوکتـورا لەپـاره فورمـه ډکـه کـړه.

ډاکټرانـو ورتـه ویـلي وو چـې کابـو درې میاشـتې بـه استراحت کـوي، خـو ځـلا داسـې نجلـۍ نـه وه چـې خپـل وخـت پـه اسـتراحت او بسـتر کـې تېـر کـړي.

هغـې خپـل هـدف پـه نښـه کـړی و او بایـد ورتـه د لاسرسي لارې چـارې وسـنجوي. ځـلا تـه هـرې شـیبې، هـر سـاعت او هـرې ورځـې خـاص ارزښـت درلـود.

هغـې ډېـر نیمګـړی او لـه درده ډک ژونـد تېـر کـړی و، هغـه لـه خپلـو خوینـدو سره د ورونـو د نـارواوو شـاهده پاتـې شـوې وه او اوس د دې وخـت رارسـېدلی و چـې هـم د دغـو ټولـو دردونـو د درملنـې لەپـاره ګام پورتـه کـړي او هـم خپلـو هغـو هیلـو، ارمانونـو او لـوړو اهدافـو تـه د عمـل جامـه واغونـدي چـې پـه ذهـن کـې یـې وې او تـر انګلسـتانه پسـې راغلـې وه.

ځـلا ډېـره مـوده تـم نەشـوه، د فورمـې لـه ډکولـو شـاوخوا درې ورځـې وروسـته یـې لـه پوهنتـون څخـه یـو برېښـنالیک ترلاسـه کـړ. پـه دغـه برېښـنالیک کـې د دوکتـورا پـه ازموینـه کـې د ګـډون لەپـاره ځـلا تـه بلنـه ورکـړل شـوې وه.

ځـلا د برېښـنالیک پـه لیدلـو نـوره هـم وځلېـده او لـه ډېـرې خوشـۍ یـې لـه خولـې چیغـه ووتـه، ای زمـا لویـه ربـه ډېـره شـکرګزاره یـم.


Hospital

په سبا یې په پروسه کې د ګډون لهپاره وخوځېده. که څه هم د عادي خلکو لهپاره چې اقتصادي ستونزې لري او مالي امکانات یې لږ وي، دوکتورا کول یو څه ستونزمن وي، خو ځلا داسې نجلۍ نه وه چې اقتصادي ستونزې او یا مالي امکانات دې هغه تسلیمۍ ته اړ کړي.

ځلا ګام په ګام مخته لاړه، د ژوند ټولې لوړې او ژورې یې تر شا پرېښودې، ډېرې شپې یې په وېښه سبا کړې او درسونه یې وویل. کله ناکله به د درسونو په جریان کې د خپلو خویندو او مور فکرونو پسې واخسته او له ځانه سره به یې ویل چې کمال او نور ورونه به یې ورسره څه وړ چلند کوي. ځینې وخت به یې هڅه کوله چې له کوم یو سره په اړیکه کې شي، خو ټول منع شوي وو، لاکن ځینې اړیکې داسې وي چې اجازه اخستلو ته یې هډو اړتیا نهپېښېږي.

ځلا تر اوږدې مودې وروسته ایله په دې وتوانېده چې له خپلې دویمې خور شفیقې سره په ټلیفون خبرې وکړې. کله چې ځلا زنګ وواهه شفیقې هډو ونهپېژانده او په تکرار یې وویل: ومې نهپېژندې، څوک یې؟

ځلا: خورې زه یم ځلا، ستا وړه خورکۍ، ځلا.

شفیقه: څه... ځلا...

ځلا: هو، ز ز زه ځلا یم.

شفیقه: اوه خدایه شکر چې ژوندۍ یمه او د ځلا غږ اورم.

ځلا: څنګه یې خورې، مورجانه څنګه ده؟

شفيقه: هېڅ پوښتنه مه‌کوه، له داسې ناخوالو او بدو ورځو سره مخ يو چې هېڅ پوښتنه مه‌کوه.

ځلا: ولې څه شوي؟

شفيقې د ځلا د نامزدۍ له شيبې، په بدو کې د کمال د لوېو تر ورکېدو او د ورونو د بې‌روزګارۍ او تر شخړو پورې ټول جريان ورته ټکي په ټکي ووايه.

ځلا په خپلو وربرو او کورنۍ لانجو ډېره خوابدې شوه. زياته خپه په دې وه چې کمال ورسره دوکه کړې وه او کورنۍ يې بې خبره پرېښې وه او د ټيپي کېدو په اړه يې هېچا ته څه نه و ويلي، بلکې لا درواغ يې هم پسې تړلي وو چې ګواکې د خپلې ځان‌غوښتنې په نتيجه کې پاتې شوې ده.

ځلا هم خپله کيسه ټکي په ټکي شفيقې ته واوروله او دا يې ورته په ډاګه کړه چې څنګه يې ټکر وکړ او څومره موده په روغتون کې بې خوده بستر وه.

شفيقه په ژړا سر شوه، هغې ته د نه منلو وړ وه چې کمال به دومره لويه خبره د کورنۍ له غوږو پټه کړې وي.

ځلا ورته تسکين ورکړ او له ژړا يې منعه کړه: مه ژاړه، ښايي په همدې کې به مو خير و، ما مې هم زده‌کړو ته دوام ورکړ، همدا چې زده‌کړې مې پای ته ورسېدې، په بيره کابل ته درځم، فقط لږ صبر په کار دی.

دواړو يو بل ته سره وخندل او د خدای شکرونه يې ادا کړل. د خدای

پامانـې پرمهـال شـفيقې زياتـه کـړه:

گـوره بـل چـا تـه زنـگ ونه‌وهـي، وروڼـو تـه پـه مـړو حسـاب کـړې يـې، کـه خـبر شـول چـې زه درسره غرېدلـې يـم؛ نـو ژونـدۍ مـې پـه قبر ښـخوي.

ځلا: اندېښنه مه‌کوه چاته زنگ نه‌وهم.

ټليفـوني اړيکـه پـرې شـوه، خـو ځـلا لاهـم غـوږۍ پـه لاس پـه چرتونـو کـې وه. لـږ ځنـډ وروسـته را پـه خـود شـوه، غـوږۍ يـې کېښـوده او د خـوب خونـې تـه لاړه. لـږه شـيبه وروسـته پـه درانـه خـوب ويـده شـوه؛ گواکـې لـه کلونـو کلونـو وروسـته يـې سـکون موندلـی و.

بالاخـره د دوکتـورا دوره هـم پـه بريالیتـوب سره پـای تـه ورسـېده او ځـلا ښـه وځلېـده، خـو د ژونـد ډېـر موړونـه او کړليچونـه لا پـه مخکـې وو. ځـلا اوس پـه دې فکـر کـې وه چـې څنگـه لـه خپلـې کورنـۍ سره مخامـخ شي، ايـا هغـوی بـه يـې پرمـخ د حويلـۍ دروازه پرانيـزي او کـه نـه؟ ايـا تـر پخـوا زيـات بـد چلنـد بـه ورسره شي او کـه څنگـه؟ دا او ډېـرې نـورې پوښـتنې وې چـې د ځـلا ذهـن يـې بوخـت کـړی و. کلـه چـې الوتکـه د افغانسـتان فضـا تـه دننـه شـوه، د ځـلا سـترگې د هېوادنـۍ مينـې لـه املـه سرې شـوې، هغـه پـه دومـره اوږده سفر بيخـي نـه وه پوهېدلـې، پـه ټولـه لار د کورنـۍ پـه سـوچ کـې وه. لـه هوايـي ډگـر تـر کـوره پـورې کابـو يـوه سـاعت لار وه، دا مـزل هـم وشـو او د کـور دروازې شـاته ودرېـده. زنـگ تـه يـې لاس ورغـی او بېرتـه يـې شـاته کـړ، بيـا يـې زنـگ تـه لاس ور وړ او بېرتـه يـې شـاته کـړ، پـه درېيـم ځـل يـې ځـان تـه جرئـت ورکـړ او زنـگ يـې ټينـگ کېکاږه. دروازه خلاصـه شـوه او وراره يـې پـه دروازه کـې

راښکاره شو، وربېرو چې ترور ولیده، له خوښۍ په منډو رامنډو شول او په چیغو چیغو یې د کاله خلک خبر کړل چې ترور راغله...

د کاله خلک، ځینې خوښ شول او ځینو نورو تندي تریو کړل. ورونه خو یې بیخي ورته راونه وتل، ځلا چې د کوټې په وره پل کېښود، نو په کمال یې سترګې ولګېدې، رنګ یې سپین وتښتېد. کمال د ستړي مهشي پر ځای وربانديې ور برچ وهل:

د لونډو ژوند مې ستا دلاسه تباه شو، تا خو مزې وکړې او په لانجو دې موږ واړولو. ای کاش چې نهوای راغلې، له موږ څه غواړې؟

ځلا بیا هم توند غبرګون سره مخ شوې وه، خو د تېر په څېر یې حوصله وکړه، د ټولو خبرې او سپکې سپورې یې واورېدې او بیا یې د هر یو تېروتنې ورته په ګوته کړې او هر یو یې جلا جلا قانع کړل.

ټول چوپ شول او د کورنۍ په یوه غړي کې هم دا وس نه و چې ځواب ورته بېرته ورغبرګ کړي. ځلا واقعیتونه ویلي وو او ټولې پخوانۍ نادودې او زورزیاتي یې د هغوی مخ ته ایښي وو؛ نو چا به څنګه جرئت کړی وای چې څه یې ویلي وای.

د ځلا له راتګ څخه کابو دوه اوونۍ تېرې شوې، د کورنۍ وضعه هم یو څه ارامه وه؛ نو ځلا ښه وګڼله چې د یوه کار او دندې لټه وکړي. لږه موده وروسته ورته ښه دنده پیدا شوه. په دې پسې د ځلا لوړې زده کړې او ځانګړي مهارتونه د دې لامل شول چې په همدې وزارت کې د معینې په توګه وګومارل شي.

تر څه مودې سکون او ارامتیا وروسته یې خپلو خویندو ته پام



واړاوه. لومړی یې خپلې هغې خور ته دوسیه پرانسته چې په کور ناسته وه. د بشري حقونو د استازولۍ له لارې یې د خور له خاوند سره اړیکه ونیوله. د خور او اوښې ترمنځ یې خبرې دېرې اوږدې او ترخې وې، بالاخره پایله په دې تمامه شوه چې خور او اوښې یې سره جلا شي.

د مشرې خور خاوند یې چې د ځلا موقف او د شفیقې قضیه ولیده، مخکې له دې چې ځلا ورسره خبرې اوږدې کړې، پرېکړه وکړه چې په کابل کې استوګنه اختیار کړي.

په دې توګه د ځلا د خویندو په ژوندانه کې نوی باب پرانستل شو او پخوانیو بدګڼو ځنې کډه وکړه.

درېیمه مسئله چې باید حل شوې وای د ځلا د ورېرو وه. په دې قضیه کې اړتیا وه چې ځینو کسانو ته له قانوني اړخه سزا ورکړای شوې وای. دا قضیه ستونزمنه په دې وه چې له یوه لوري ماشومې نجونې له خوښې پرته واده شوې وې او له بل لوري په ځلا د بداخلاقۍ تور پورې شوی و، سربېره پر دې د هلک کورنۍ یې له کور څخه نقدې پیسې هم اخستې وې.

ځلا له خپلې حقوقي پوهې کار واخست او دوسیه یې پرانسته او قضیه یې په محکمه کې وګټله، پیسې بېرته واخستل شوې او مرکچیان تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شول. د ورېرو خسر او هغه هلکان چې نجونې یې په بدو کې په نکاح کړې وې، زنداني شول. ځلا دا ستونزه هم په پوره مهارت حل کړه؛ دا هماغه ځلا وه چې یو

وخت یې ورونو د ژوند بربادول غوښتل، خو نن هغې د خپلو ورېرو او خویندو ژوند ژغورلی و.

په دې پسې ځلا د خپلې کورنۍ د اقتصادي وضعیت د بهبود لهپاره لاس په کار شوه. هم یې د خپل معاش یوه لویه برخه کورنۍ ته ځانګړې کړه او هم یې خپلو ورونو ته دندې پیدا کړې. ورونه نن خپلې هماغې خور ته احتیاج وو چې د هغې د زدهکړو مخه یې نیوله او پرې شرمېدل، خو ایله کلونه پس د دغه قیمتي ګوهر په ارزښت وپوهېدل.

ځلا نهیوازې د خپلې کورنۍ پر وړاندې، بلکې د ټول ولس پر وړاندې ځان مسوول ګاڼه او له همدې کبله یې ټولو هغو کورنیو ته د عامه پوهاوي برنامې پیل کړې چې د نجونو حقونه په کې ضایع کېدل. د نجونو د زدهکړې لهپاره یې ډېرې هلې ځلې وکړې، خو ډېر کم شمېر هېوادنیو ادارو یې د ملاتړ لهپاره ټټر وډباوه.

ځلا په دې برخه کې د بهبود په خاطر اړه شوه چې د ملګرو ملتونو له څنګزنې څانګې یونیسف سره اړیکه ونیسي. په دې کار وتوانېده، هم یې د یونیسف ملاتړ خپل کړ او هم یې یو شمېر سوداګر دې ته وهڅول چې د سیمو نجونو او هغو مېرمنو ته چې واده شوې دي او په لیک او لوست نهپوهېږي، د زدهکړې مرکز جوړ کړي. سربېره پر دې ځلا د دغه مرکز پرمټ د سیمې ټولو اوسېدونکو ته په دوراني شکل د عامه پوهاوي برنامې هم پلې او کورسونه دایر کړل.

بله ستونزه چې د سیمې اوسېدونکي ورسره مخ وو، خامه لارې، کوڅې

او سـړکونه وو. ځـلا د دې لهپـاره چـې د سـړکونو او کوڅـو رغولـو تـه د نـورو پـام واړوي ورځپاڼـو تـه مقالـې ولیکلـې او لـه دې لارې يـې د سـیمې خلـک بسـیج کـړل.

خلکـو هـم د مقالـو پـه لوسـتلو سره خپـل غـږ تـر ښـاروالیو پـورې ورسـاوه، بالاخـره د خلکـو او د ځـلا د پرلهپسـې فشـارونو پـه نتیجـه کـې د دوی د سـیمې کوڅـې او سـړکونه پاخـه شـول او نـور پـه کـې هغـه پخـواني ګردونـه، دوړې او د بـاران پـه وخـت خټـې نـه تـر سـترګو کېـدې.

ځـلا د خپلـو هېوادوالـو لهپـاره پـه همدغـو کارونـه بسـنه ونهکـړه، بلکـې ډېـرې نـورې چـارې يـې هـم مختـه یوړلـې. ځـلا بـه همېـش پـه دې خوښـېدله چـې خلکـو تـه خدمـت وکـړي. د هغـې ارمانونـه پـه يـو بـل پسـې پـوره کېـدل. هیڅکلـه يـې هڅـو او کوښښـونو پـای نهمونـده.

پـه دې منـځ کـې د ځـلا تـر ټولـو لويـه لاسـته راوړنـه دا وه چـې د نجونـو او ښـځو پـه رابطـه يـې هـم د خپلـو ورونـو نظرونـه بـدل کـړل او هـم د سـیمې د اوسـېدونکو.

اوس نهيـوازې د دوی پـه کـور، بلکـې د دوی پـه سـیمه کـې نجلـۍ نـه رټـل کېـده، مـور بـه د لـور د زېـږون لـه املـه نـه ملامتېـده، پـه حقیقـت کـې د نجونـو او هلکانـو ترمنـځ تـوازن او برابـري رامنـځ تـه شـوې وه او نجونـو پـه پـوره معنـا خپلـو اسـلامي او انسـاني حقونـو تـه لاسرسـی پیـدا کـړی و.

يـا پـه بلـه وينـا، د ځـلا ابتـکارات او نوښـتونه لامـل شـول چـې پـه کورنيـو کـې د نجونـو او هلکانـو ترمنـځ توپيـر لـه منځـه لاړ شي، او خوینـدې د

بوټانــو د نه‌رنګولــو پــه پلمــه ونه‌ځــورول شي، او خــوراک او پوښــاک تــه یــې یــو ډول پاملرنــه وشي او څــوک یــې پــه بــاداري راونه‌وځــي.

دا ټــول د هغــې نجلــۍ د کوښښــونو پایلــه وه چــې ورونــو بــه رټلــه، ســپکې ســپورې بــه یــې ورتــه ویلــې، پــه لبــاس او خــوراک بــه یــې انتقادونــه کېدل، ښــوونځي تــه بــه تــش جیــب روانــه وه، او پــه کــور کــې بــه د وینځــي پــه توګــه چلنــد ورسره کېــده. نه‌یــوازې دا ناخوالــې بلکــې پــه بداخلاقــۍ او تېښــته هــم تورنــه شــوې وه او تــل بــه د کم‌عقلــې پــه ســترګه کتــل کېــدل او د ژونــد فیصلــې او پرېکــړې بــه یــې نــورو کولــې.

خــو اوس مــو پــه سر ســترګو ولیــدل چــې همدغــه نجلــۍ د خپلــې کورنــۍ، ســیمې او هېــواد له‌پــاره د نجــات پرښــته شــوه. د دغــې نجلــۍ د ژونــد د هــر پــړاو کتــاب پــه اوښــکو لمبېدلــی او همدغــو لنــدو کتابونــو تــر مقصــد راورســوله.

ځــلا زمــوږ د ټاټــوبي یــوه بېلګــه ده چــې د ســتونزو او کــورني تاوتریخــوالي باوجــود ځــان د بریالیتــوب وروســتیو پوړیــو تــه رســوي او د ولــس له‌پــاره د ژغورنــې امســا ګرځــي.

لــه دې دا نتیجــه اخلــو چــې د دې خــاورې هــر فــرد کــولای شي چــې د ســتونزو پــر وړانــدې ودرېــږي، مبــارزه وکــړي او بالاخــره ځــان د بریالیــو کســانو پــه کتــار کــې ودروي.

ډېــری خلــک د مشــکلاتو پرمهــال ځــان ناتوانــه او بې‌وســه احساســوي او تــر نــورو شــاته کېــږي. پــه تېــره بیــا هغــه نجونــې زیاتــه قربــاني ورکــوي چــې د دود او دســتور پــه نــوم ګواښــل کېــږي او د زده‌کــړو مخــه یــې نیــول

کېږي او یا هم په کوچنیوالي کې یې د واده تړون کېږي. موږ باید د ځلا په څېر له دغه حالته راووځو، هره پرېکړه باید په خپل ځای وشي او خپل حقونه ترلاسه کړو.

زموږ په ټولنه کې ډېری نجونې د ناوړه دودونو ښکار کېږي او په همدې پلمه له ښوونځي او زده کړو پاتې کېږي، نجونې دا هرڅه په پټه خوله زغمي، حال دا چې په دې زغم سره نه یوازې ځانونو ته زیان اړوي، بلکې د ټولنې په حق کې هم کوتاهي کېږي. ځکه د ظلم او ناروا پر وړاندې د نجونو چوپتیا د دې سبب کېږي چې نورو خلکو او کورنیو ته هم په خپلو لوښو د تېریو زمینه برابره کړي او د لوست مخه یې ونیول شي او بالاخره ټولنه نالوستې نجونې په سر واخلي؛ نو اړینه ده چې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره مبارزه شي او فکرونه بدل کړای شي.

د ځلا کیسه د همدې لپاره لیکل شوې. دې کیسې او داستان موږ ته د یوې پیاوړې، زیارکښې او نه ماتېدونکې نجلۍ د ژوند لوړې او ژورې انځور کړې چې هم یې ناوړه دودنه مات کړل او هم یې نرواکۍ ته د پای ټکی کېښود.

# پای

# د توانا نوي چاپونې



























# د توانا لومړۍ جشنوارې کتابونه

